

# اې د بابړې خاورې ! د چارسدې کربلا

عزیز خان ملېزے

اې د بابړې خاورې ! د چارسدې کربلا
ستا په سینه کښې ترمې ترمې شهیدان پراتهٔ دي
(عبدالاکبر خان اکبر)

دولسم اګست د بابړې د شهیدانو د شهادت ورځ ده - دا ننګیالي خدائي خدمتګار هغه وخت شهیدان کړے شول چې د پښتونخوا د قیوم حکومت د خدائي خدمتګار تحریک په پرامن جلوس بې له څهٔ خبردارۍ ډزې وکړې - جلوس د خدائي خدمتګار تحریک له اړخه د رابللې شوې جلسې ځائے ته روان ؤ - غونډه د قیوم حکومت د ناوړه، ناروا او غېر سیاسي سلوک په ضد د احتجاج په توګه رابللې شوې وه-

قیوم او د هغهٔ انډیوالانو چې د ملک په سیاست کښې کوم ډول ناوړه او ناروا دودونه وزیږول، هغه زمونږ د سیاسي تاریخ ناولې او کرکژنه پاڼه ده - د مخالفو سیاسي کارکنانو ځورول، وهل ټکول، په سیندونو لاهو کول، بندي کول، جائیدادونه سرکاري کول، په خرو سورول، د حیا او ناموس خاوندان بربنډول، په کوڅو کښې ګرځول او په دغه بربنډ حال کښې خپلو کورونو ته لېږل د قیوم شاهي حکومت د هرې ورځې او عادي پېښې وې - په شرافت، اخلاقیات، عدالت، انسانیت، او قانون نومې یو څیز هم قیوم او د هغهٔ کورنو او بهرنو انډیوالانو باور نهٔ لرلو - په زرهاؤ سیاسي غړي په شمول د باچا خان، ډاکټر خان صېب، قاضي عطا الله بې شمېره خدائي خدمتګار بغېر د څهٔ جرم او ګناه په زندانونو کښې پراتهٔ وو - د دغه ظلم، زور، زیاتي او غېر سیاسي چلن په ضد خدائي خدمتګار تحریک په دولسم اګست کال **1948**ء په چارسده کښې د احتجاجي غونډې اعلان کړے ؤ - د غونډې غرض د قیوم سرکار په ضد خپله ناخوښي ښکاره کول، سیاسي او جمهوري حقوق غوښتل او د نورو صوبو د اولس او نړۍ پام د قیوم غېر جمهوري رویې ته راګرځول وو - د حکومت له خوا د جلسې د ناکامه کولو د تمامو هڅو باوجود د صوبې د ګُټ ګُټ نه په زرګاؤ خلق چارسدې ته راورسېدل او د جلوس په شکل کښې د بابړې مېدان ته روان شول - هر کله چې جلوس د بابړې مېدان ته ورسېد نو پولیس او ملېشې بې له څهٔ خبردارۍ په دغه پرامنه او تش لاسي خدائي خدمتګارو وچ په وچه بې دربغه او ړندې ډزې شروع کړې - په سلګونو کارکنان په ټق مړهٔ شول - د ژوبلو خو هډو

شمېر نۀ ؤ معلوم - سپين ږيرو او زنانوؤ قرآن شريفونه په لاسونو کښې نيولي د ډزو بندولو زارۍ ئې کولې - خو شايد هغوي په دې حقيقت نۀ وو پوهه چې اودۀ ضميرونه په داسې خبرو نۀ ويښېږي نو ځکه هغه زنانه او بوډاګان هم شهيدان شول او د قرآن پاک نسخې په ګولو سُورې سُورې او پانې پانې شوې - د مارټر بمونو استعمال وشو او په رښتيا چې د وينو رودونه وبهېدل-



د نامتو صحافي ښاغلي انور خان په وېنا په دغه ورځ په ډزو کښې دوه د بره شپږ سوه کسان شهيدان شول خو څۀ سرچينې د مړو شمېره تر زرو نه هم زياته ښيي - د ژوبلو شوو خو څۀ شمېر نۀ ؤ خو هسپتالونو ته هم حکم وشو چې د ژوبلو دارو دُرمل او پټۍ به نۀ کوي-

څۀ کم يوه ګېنټه کښې د شپږ سوه تش لاسي سياسي کارکنانو قتل عام څۀ وړه پېښه نۀ وه - په مهذبه نړۍ کښې په دغه ډول پېښو تختونه او حکومتونه پاستر شي- دا قتل عام په هغه مملکت خداداد پاکستان کښې وشو چې ايله يو کال وړاندې هم د دغه خدائي خدمتګار تحريک د بې ځاري سياسي مبارزې په نتيجه کښې ازاد شوے ؤ او لا د مسلم ليګ دعوىٰ وه چې د اسلام په نامه دا د اسلام قلعه جوړه شوې وه - خو د قيوم غوږونه چا تاؤ نۀ کړل او تپوس به ترې نه څۀ رنګ شوے وې چې مرکزي حکومت په خپله د قيوم د وحشت په شا ولاړ څۀ چې شريک ؤ - د پاکستان د جوړېدو فقط يوه هفته وروستو د ګورنر جنرل په حکم د پښتونخوا د خدائي خدمتګارو وزارت مات کړے شو - خدائي خدمتګارو ته په اسمبلۍ کښې په پنځوسو کښې د **33** غړو ملاتړ حاصل ؤ - د نوي انتخاب يا د ګورنر راج په ځائے قيوم ته د حکومت جوړولو بلنه ورکړې شوه - په داسې حال کښې چې قيوم د اولس او اسمبلۍ د اکثريت نه برخه من نۀ ؤ او هم له دغه ځايه د پاکستان په سياست کښې د اسمبلۍ د ممبرانو د خرڅېدلو او اخستلو رواج بيامونډ او بيا دا يو ښکاره حقيقت دے چې هر کله يو حکومت د اکثريت د ملاتړ نه بې برخې وي نو هم دغه ډول شرمېدلے سياست رواج کېږي او بيا قيوم پخپله هم د څۀ ويښ ضمير خاوند نۀ ؤ هر کله چې وزير اعلىٰ شو نو په خپل ليکلي کتاب Gold and Gun on the Pathan Frontier ئې په خپله بند ېز ولګولو -

د قيوم سره د مرکزي پاکستان د ملګرتيا د دې نه لوئے ثبوت څۀ کېدے شي چې په څلورمه جولايۍ کال **1948** د قيوم حکومت يو آرډيننس جاري کړو چې د هغې تر مخه خدائي خدمتګار تحريک غېر قانوني تنظيم وګرځولے شو - پښتون مجله بند کړې شوه او هم په دغه حکم کښې قيوم حکومت ته واک ورکړے شو چې کۀ وغواړي نو



ځوک هم بې له څۀ جرمه او خطا د زندان د تورو تمبو شاته کولے شي - د بندېز یا نظربندۍ لپاره څۀ ټاکلې موده نۀ وه - د اړډیننس تر مخه یو عدالت هم حکومت په دې نۀ شو مجبورولے چې حکومت دې بندي کس ته د هغه د نظربندۍ یا گرفتارۍ سبب grounds of detention وښيي - دې سره حکومت ته د قیدي د منقوله او غېر منقوله هر ډول جائيداد ضبط کولو اختیار هم ورکړے شو - د صوبې پېرنگي گورنر چې دا حکم دستخط کړو نو شاید چې خپل ضمیر ملامته کړو او د اړډیننس په تندي ئې ولیکل ((زۀ دا اړډیننس د گورنر جنرل محمد علي جناح په هدایت جاري کوم))-

قیوم او یا گورنر جنرل صاحب خو د وهلو ټکولو او بندونو سره بلد نۀ وو - ولې د خدائي خدمتگار تحریک لپاره دا څۀ نوي شیان نۀ وو - کۀ د هغوي دا خیال ؤ او په یقین سره ؤ چې په وهلو ټکولو، گرفتارو، جائیدادونو ضبطولو به خدائي خدمتگار تحریک او د هغې سیاسي اثرات له مینځه یوسي نو وخت او د خدائي خدمتگارو حوصلو ثابته کړه چې هغوي څومره په غلطه وو - خدائي خدمتگار تحریک په پښتون دود، دستور او روایاتو ولاړ د پښتنو وړومبے منظم سیاسي



تحریک ؤ - دې تحریک د اولس ژوره فکري وداني کړې وه - په اولس کښې ئې ژورې ریښې لرلې - د براعظمگي په ازادۍ کښې د دغه تحریک د بې سارې مبارزو او قربانو نه څوک هم سترگې نۀ شي پټولې -د شلمې پېړۍ تاریخ، د هند د ازادۍ او د پښتنو سیاسي او سماجي تاریخ به د خدائي خدمتگار تحریک د ذکر نه بغېر نیمگړے وي - متل دے چې څوک په جارو کړې مېدان راشي هغۀ ته څۀ پته لگي چې پخوا دلته څومره گند پروت ؤ - نن کۀ مونږ ته څۀ لږې ډېرې سیاسي ازادۍ حاصلې دي نو دا چا پښتون اولس له په خېرات کښې نۀ دي ورکړې – د دې په شا د خدائي خدمتگار تحریک اوږده مبارزه او قربانۍ پرتې دي - په دولسم اگست د بابړې د ننگیالو شهیدانو لوئے جرم هم دغه ؤ چې هغوي د جمهوري او سیاسي واک او ازادۍ غوښتنه کوله-

د بده مرغه حکومتونو د خپلو عارضي سیاسي گټو په خاطر مدام د حقیقي سیاسي او قامي تحریکونو د ملا ماتولو، چقولو او لاروډب کولو هڅې کړې دي - لېکن په دې طریقو سیاسي او قامي تحریکونه یا د هغوي سیاسي او سماجي اثر چرته هم نۀ شي ختمېدے - البته د لږ وخت لپاره د هغوي وړاندې تگ وځنډېږي -

د خدائي خدمتګار تحریک د پښتنو د سیاسي او سماجي مبارزې تاریخ دے - د پښتونخوا د هرې تیرې لاندې، په هر تنګۍ، کنډاؤ او دره کښې، په هره لاره او ګودر د پښتون ملت د ننګ، پت، میړانې یوه قصه پرته ده - هوښیاران وائي چې تشه لاسه! تۀ مې دښمن ئې - د لیک لوست نه بې برخې پاتې شوے یا ساتلې شوے ملت د خپل سیاسي او ملي تاریخ سره اشنا نۀ وي - د بده مرغه پښتانۀ په یویشتمه پېړۍ کښې هم یو مضبوط اواز او مېډیا نۀ لري - چې دنیا ته خپله چغه، خپل سیاسي موقف، کلتور او تاریخ وروښيي - د وخت جنګ د وخت په کالو کېږي - مېډیا د یویشتمې پېړۍ غوره کالے دے - اوس باید مونږ ټول واړۀ زاړۀ، پښغلي زلمي، ادیبان دانشوران، هنرمندان، فنکاران دغه اړخ ته پام وکړو او دغه خلا ډکه کړو - چې نړۍ په عمومي ډول او خپل ځوان او راتلونکے نسل په خاصه توګه د خپلو نیکونو د تورې او میړانې نه خبر کړو او دغه رنګ ئې د خپل تاریخ سره تړون او پېوستون پېدا کړو-



د دولسم اګست پېښه زمونږ د تاریخ نۀ هېرېدونکې پاڼه ده - باید چې مونږ دغه ورځ په عقیدت او احترام سره ونمانځو او د بابړې شهیدانو ته د خپل عقیدت پېرزوئنې وړاندې کړو - پکار ده چې د لر او بر پښتونخوا ورځپاڼې، مجلې او برېښنائي پاڼې په خصوصیت سره د دغې ورځې د تاریخي اهمیت په حقله ځانګړې اداریې ولیکي -

د بابړې د شهیدانو تاریخ د یو کس، کلي، قبیلې یا د یو ګوند نه، بلکې د هغو تنګیالو بې ساري سر شیندنه د قام او ملت ګډ تاریخ او شته مني ده - د باچا خان فکرونه او د خدائي خدمتګار تحریک مبارزه د یو فرد یا یوې قبیلې لپاره نۀ، د ټول ملت لپاره وه - دا به هم بې ځایه نۀ وي کۀ مونږ ټول په شریکه سره دا غوښتنه وکړو چې د دولسم اګست ورځ دې زمونږ د سکولونو په نصاب کښې شامله کړې شي - دغه شهیدان زمونږ د ملي تاریخ ستوري دي او باید چې زمونږ په اسمان وځلېږي - زمونږ لپاره د اکرې، علي ګړ او د فرغانې د اسمانونو ستوري څۀ رابښکون لري؟

پکار ده چې مونږ دا تاریخي حقیقت په پام کښې ولرو چې پښتون ملت په خوئي او فطرت کښې نن هم هغه پرونے ملت دے. هر کله چې د رهبرۍ او ملت تر مینځ کلک تړون پېدا شي رهبري په خپلو هدفونو او مرام کښې واضحه وي او اولس د هغوي په ژبه د مرام او د مرام د خوږو نه خبر کړے شي او چې یو ځل د ملت په رهبرۍ، په خلوص او په مرام باور پېدا شي نو پښتون ملت چرته هم د مال او سر شیندنې نه تېښته نۀ ده کړې.